# پړ دوکتور نجیب الله نیوکې او د هغو موخه



دې لیکنه کې هڅه شوې چې پر پخواني ولسمشر دوکتور نجیب الله، د ځینو نظریاتي مخالفینو لګېدلو نیوکو ته ځغلنده کتنه وشي او د خپلې اندتوګې په ګډون یې د قضاوت لپاره د درنو لوستونکو په مخکې کېږدم.

د دوکتور نجیب الله په اړه، په ټولیزه توګه ډیری افغانان داسې انځور لري چې نوموړي غوښتل په کور دننه  دولتي واک کې د ونډې او شراکت پر سر د افغانانو د بېلا بېلو ډلو او تنظیمونو ترمنځ شخړې او جګړې ته د پای ټکی کېږدي او د روغې جوړې له لارې د دولتي واک د ویش ستونزه حل شي. بلخوا له ځنګه چې لېدل کېده، د نوموړي موخه دا وه چې په دې صورت کې به په پاکستان او ایران کې جهادي تنظیمونه د دغو هېوادونو له منګولو خلاص شي او په ټوله کې به د پردیو په لاس پاشلي افغانان بیرته د افغانستان پر تېنده زړه کابل، پر یوه ټغر راغونډ شي.

د نوموړي دا جمله اوس هم د سیاستوالو د ژبو پر څوکه ده چې ویل یې« کنار رفتن نیروها نه، بلکې کنار امدن انها باید مطرح بحث باشد»

نجیب الله یو عملي شخصیت وو، هغه په دې موخه د ملګرو ملتونو د استازي په مخکې او د دې نړیوال سازمان په تضمین، د هغه مهال د افغان دولت او د بېلا بېلو مجاهدینو ډلو ترمنځ د موقت ګډ حکومت په جوړېدا، د ملي او نړیوال تربیبون له لارې له دولتي واکه استعفی ورکړه.

د ملګرو ملتونو په تضمین د موقت حکومت په ګټه د نجیب استعفی، هغه مهال نه یوازې د افغانانو منځ کې د نجیب الله ملي زړورتیا او سیاسي نووښت وبلل شو، بلکې په نړیوال ډګر کې هم وتلی او منلی ګام او اقدام وګڼل شو.

په دې لړ کې، هغه مهال چې زما د اوس پشان تازه په یاد دي، د سیمي وتلی سیاست پوه او د پښتنومنلی مشر اروابناد عبدالولي خان، د دوکتور نجیب الله د استعفی په اعلان سره، هغه ته په دې اړه د خپلې خوښۍ او مبارکۍ تلیګرام مخابره کړی وو.

خو د پخواني ولسمشر دوکتورنجیب الله په اړه له داسې انځور سره سره، په ټولنه کې د ځینو نورو شخصیتونو او ټولنیزو ګروپونو لخوا پر نوموړي نیوکې او اعتراضونه هم کیږي چې ځیني یي د ښه نیت او رغاوي ترڅنګ د نورو موخو لپاره هم په پام کې نیول کیږي او بلخوا په پاکستان کې ځیني معلوم الحاله کړۍ، د دوکتور نجیب ا الله سره د سیالۍ او تاریخي دښمنۍ پر بنسټ چې لاملونه یي څرګند دي، د افغانانو ترمنځ یو شمېر نیوکو او شکونه ته لمن وهي!

د دوکتور نجیب الله د پلویانو او لارویانو منځ کې هم ځیني هڅه کوي، له نوموړي څخه یو سپيڅلی بت او ځلی جوړ کړي چې یوازې دوی یي په کال کې یوځل ښنو ته د ګلانو ګېډۍ کیږدي او یا یي د بت او زیارت پشان ولمانځي او تر بل کاله یی انګړ شاړ شډل او ویجاړ پریږدي.

موږ په افغانستان کې د زيارتونو کمی نلرو. د هېواد په هر کلي بانده، کوڅه اوګوټ کې د مزارونو او زيارتونه پريماني ده، خو د شخصيتونو د انديښنو، روښانو ليدلورو او جوړونکو فکري مکتبونو لکه اماني غورځنګ، عدم تشدد او د ملي روغې جوړې انديښنو پشان اندونو او مکتبونو ته ناپايه اړتيا او کمی لرو. د افغانانو ګټه به هغه مهال زياته وي چې د ژغورونکو او پرمختلونکو انديښنو او مکتبونو زيږونکي او جوړونکي وپالل شي او د هغو د مزار او زيارت پالنې پرځای د دوی د انديښنو او مفکورو پلويتوب وشي او په ورځني ژوند کې هغه پلي شي!

تر کومه ځايه چې دوکتور نجيب الله پخپله د تېر مهال د پراتيک او انديښنو په اړه څېړنه او څرګندونه کړې، هغه تر بل هرچا مخکې پر داسې انديښنو او پراتيک نه يوازې اړين نقد کړی، د هغو ښېګڼې او بدګڼې يې ډاګيزه کړې، بلکې د نورو او په تېره بيا د خپلو لارويانو لپاره يې هم د هغو د نه تکرار لار روښانه کړې او خپله يې هم پر دغه لار د ژوند تر وروستی شېبې، ټينګ ګامونه ايښي دي.

د تېروتنو په اړه له نورو مخکې پوهېدا، نيوکه او د هغو سمون او د راتلونکي تولنيز حرکت لپاره د لارې رونټيا د وتلو شخصيتونو ځانګړنه ده!

نوموړي يو وخت د ګوندي کنفرانس غونډې ته ويلي وو« راديکاليزم انقلابی که در کار و فعاليت حزب اثر ميگذاشت، سبب شد تا سيمای حزب  دگرگونه جلوه داده شده و عده يی فرصت بيابند تا به حزب مُهر سرخ کمونستی بزنند. علاوتاً در نخستين اسناد مرامی و تشکيلاتی حزب گرايش تند روانه در برخورد با واقعيت های اجتماعی و گسست از آن با تمايل به پرش از مراحل طبيعی رشد اجتماعی و اقتصادی، کم بها دادن به عنصر تفکر عامه و ناسيوناليزم افغانی، خاصتاً هنگاميکه امروز ما گذشته را مورد ارزيابی قرار ميدهيم، به چشم ميخورد. برخورد واقعبينانه با گذشته نشان ميدهد که حزب همچنان مؤظف بود نقش و اهميت دين مقدس اسلام را بيشتر از آنچه که در نظر گرفته بود، در نظر ميگرفت و درست به همين جهت حزب مجبور شد در ادوار بعدی فعاليت خود از اين ناحيه بهای گرانی بپردازد»

په عمده توگه، گوته نیوونکي د دوکتور نجیب الله دوه کارونه نه خوښوي او پرهغو نیوکه لري.

۱ ـ دا چې نوموړي د دولتي امنیت رییس تېر شوی او په مهال یی له بندیانو سره زور زیاتی شوی

۲ ـ دا چې ولي یي عبدالرشید دوستم ته زیات فرصت ورکړ چې هغه د ملیشو خاوند او جنرال شو

البته هیڅوک د دې حق او واک نه لري چې پوښتونکي له پوښتنو وگرځوي، پوښتونکي د دا شان او یا دې ته ورته د نورو لسگونو او سلگونو پوښتنو د وړاندې کولو حق لري او باید په سړه سینه یي ځواب ومومي.

هغه پوښتنې چې د حقیقت موندنې، پوهېدنې او د تېروتنو د نه تکرار او مخنیوي لپاره وي، ځونه چې دېرې وي، گټه یي دېره ده.

که د افغانستان تېر مهال ته وکتل شی، موږ د امیر عبدالرحمان په وخت کې پیاوړي استخبارات لرل. دا چې هغه مهال نوموړي امیر، وشوکولای یو پیاوړی مرکزي حکومت جوړکړي، یو غټ دلیل یي دا و چې هغه غښتلي استخبارات درلودل. د اعلیحضرت ظاهرشا بابا د سلطنت په مهال هم زموږ استخبارات دومره پیکه نه وو لکه نن چې د سیمې د هېوادو او گاونډیانو په پرتله پیکه او بیخونده دي. د نوموړي د سلطنت په ۴۰ کلونو کې د افغانانو د اوړدو او تر غرمې خوبونو شاته، هم د افغاني استخباراتو پټ لاس او دروند کار له پامه نه شي غورځېدای. د افغانستان د تېر تاریخ په هر پړاو کې چې افغانانو په نسبي توگه غښتلی مرکزي دولت لرلی، هېواد ته امنیت راغلي او یا د هېواد د ودانۍ بهیر پیل شوی په هغو کې د ملي استخباراتو د ونډې او رول په اړه، انکار نه شي کېدای.

پیاوړي مرکزي حکومت چې د هر کورني سرزورتیا او لالچ او د هر بهرني دښمن په وړاندې د الماس توره وي، له غښتلي امنیتي بنسټه پرته، نه رامنځته کیږي!

هغه مهال چې دوکتور نجیب الله د هېواد د دولتي امنیت مشر وو، په پنجاب کې واکمنو استخباراتو (ISI) او پوځیانو د افغانستان په هیڅ گوټ کې تخریبي عملیات، لاسوهنه او سبوتاژ په داسي خلاص

مټ لکه نن او یا د نږدې تېرمهال پشان، نه شو ترسره کولای. هغه مهال په افغانستان کې د پنجاب هر تخریبي عمل، د پاکستان په هر ګوټ کې په ورته غبرګون ځوابېده او د پنجاب مغروره او سرزوره پوځیانو هم د دولتي امنیت له ډاره د ارامۍ خوب او ژوند نه درلود!

ویل کیږي چې د بهتو کورنۍ د دولتي امنیت  په زیرخانو او میلمستونو کې د لاهور او د پنجاب په نورو برخو کې د تخریبي عملیاتو د ترسره کولو او پر پنجابي ملیتاریستي واکمنو د فشار د یوې وسیلې پتوګه د اوږدو وختونو لپاره د دولتي امنیت په خدمت کې وه.

نن هم که په دولتي امنیت کې د تېر پیر مجرب او سربښندلي امنیتي چارواکي نه وي او دا امنیتي بنسټ په سلو کې سل په پاکستان او یا ایران کې روزل شویو په اصطلاح مجاهدو چارواکو ته وسپارل شي، په همغه ورځ به د افغانستان د واکمنۍ جنازه د پاکستان په هدیره کې ښخه وي.

همدارنګه په ګاونډیو هېوادونو او یا لیرې پرتو هېوادونو کې که د هغو پیاوړتیا او د دولتونو ثبات ته ګورو، په هغوکې د دوی د استخباراتو لاس څرګند دی.

داسې اندونه چې هغو کې د استخباراتو د دیموکراتیکوالي کچه، په نوموړو ټولنو کې د دیموکراسۍ له کچې پورته وګڼل شي، ریښتیني نه دي. دیموکراتیک استخبارات په یوه ټولنه کې د دیموکراسۍ له ودې، عمومي پرمختګ او د قانون له واکمنۍ سره تړلی دی.

بلخوا په ځانګړو شرایطو لکه پر هېواد تپل شوې او نیابتي جګړه کې، د ځینو دولتي ارګانونو لکه پوځ او استخباراتو دندې په هېواد کې له عادي حالاتو توپیر پیدا کوي. په داسې فوق العاده وختونو کې د هېواد هرڅه په جګړه کې د بریا، دښمن ته د ماتې او دعمومي امنیت په چوپړ کې کارول کیږي.

د جنرال عبدالرشید دوستم په اړه هم پوښتنې او شکونه لکه د نورو او ټولو پشان، د تېر تاریخ تفسیر ته باید پرېښودل شي. اوس که د جنرال عبدالرشید دوستم ملیشو ته په ټولیز نظر وګورو، نن هم دا ملیشې چې په ملي اردو کې مدغم دي، د افغانستان د امنیت په چوپړ کې دي. دا ملیشې د اردو د

برخي پتوګه، د ترهګرو په بڼه د پاکستانی ملیشي او د ایران د پراختیا غوښتونکو سیاستونو په وړاندي خپله سیمه کي لوی خنډ ګڼل کیږي. جنرال دوستم د مجاهدینو د قومندانانو او سرخېلانو برعکس، یوازینی افغان وو چي د خپل تېر پیر پر تېروتنو او خطاوو یي له افغانانو بخښنه وغوښته او د هغو د نه تکرار ژمنه یي وکړه. افغانانو ته به ګټوره وي چي د تېر پیر ناخوالي د تاریخ تفسیر ته پرېږدی او هغه افغانانو ته چي د راتلونکي یو موټي، نوي او پرمختللي افغانستان جوړېدو ته ژمن او خدمتګار دی، د کار او خدمت مخه ډب نکړي!

په پای کي به د هېواد په ګټه وي، چي پر دوکتور نجیب الله د مخالفینو د یادو او یا نورو نیوکو پرځای، پر دوه نورو لاملونو سره قضاوت وشي. نجیب الله په بیخي لنډ وخت کي دوه بهرني یرغلونه، یعنی یو یي د جلال اباد پربنار د پنجابي دښمن پلان شوی تیری په پوځي سوک ورمات کړ او بل یي د ژنیو په تړون سره له افغانستانه د شوروي پوځونو وتونلار چمتو کړه او د دلوې ۲۶ مه یي (د فبرورۍ ۱۵ مه) په افغاني ویاړ او برم سره د افغانستان د ژغورون ورځ ونوموله.

په لنډ وخت کي پر پنجاب ستر **پوځي بری** او بل په هوښیارتیا او ځیرکۍ سره پر پخواني شوروي **سیاسي بری،** هغه لاملونه او ملي بریاوی دي چي په کور دننه د نجیب الله سیاسي مخالفین او بهرني دښمنان یی د زغم وس نه لري او د مسخه کولو لپاره یی بابیزه او کاواکه نیوکو ته مخه کوي!

د ۲۰۱۵ کال د سیپټمبر ۲۵ مه

سرلوڅ مرادزی